محمد نعمان دوست ۲۰۲۱/۱۱/۳۰

# د استاد اسحاق ننګرګر مړینه

# او

# یو تاثر

د ۲۰۰۴ کال د ژمي سړې ورځې وې. د کابل ښار د کلوله پشتې د یوې ودانۍ په سالون کې سره راټول وو او د یوه انګریز ټراینر (جان ټاکي) لکچر ته غوږ وو. دا سور او سپین انګریز په راډیوي ډرامو غړیده. له انګریز سره خوا کې یو غنمرنګه مشر هم ولاړ و. تور کوټ یې اغوستی و، د کوټ په رنګ پیک لرونکي خولی یې پر سر وه او لنډه سپینه ږیره یې له مخه راتاوه وه. د تور کوټ او تورې خولۍ ترمنځ سپینه ږیره داسې ښایسته بریښیده لکه د دوه تورو غرونو منځ کې چې واوره پرته وي. دې سړي په ډېره فصیح او روانه ژبه د انګریز خبرې ژباړلې، چې پښتو به غړیده نو سوچه پښتون ښکاریده، که درې به غړیده نو داسې بریښیده چې اصلي ژبه یې درې ده او چې کله به انګریز سره په خبرو شو؛ نو بیا به د بهرنې ګومان پرې کیده.

د دې سړي چلند له محبته ډک و. ملنګ طبیعتی انسان و او د معلوماتو خزانه وه. چې د نوم پوښتنه مې وکړه نو راته وویل شول چې استاد اسحاق ننګرګر دی. دا نوم مې ذهن ته اشنا ښکاره شو. مغز یې په اړه لټون پیل کړ او بیا د لټون په پایله کې یې نوم د ذهن په آرشیف کې له یوه اوږده نظم سره پیدا شو. د دې نظم سرلیک و:

## «پیامبران دروغین»

دا نظم مې ډیر پخوا لوستی و. یوه وقفه کې مې په همدې نظم ورسره خبرې وکړې. خبرو نورې زاویې پیدا کړې او بیا استاد پر شاعری دومره زړه پورې بحث وکړ چې سم خوند مې ترې واخیست. له هغې وروسته مې کوښښ کاوه چې د استاد غږولو ته پلمې پیدا کړم او بیا له دې صدف څخه را تویدونکیو ملغلرو ته لپه ونیسم.

خدای حاضر دی؛ د انګریز خواته د دې عظیمې هستۍ دریدل او هغه هم د ژباړن په توګه، سخت زور راکاوه. څو ځلې مې نیت وکړ چې دا خبره ورسره شریکه کړم؛ خو جرئت مې ونکړ، ما ویل هسې نه د خپګان لامل یې شي.

په هغو ورځو کې زه په کابل کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د «سره میاشت» جریدې مسوول مدیر وم. له ګڼو ولایتونو څخه د دې ټولنې استازې زموږ دفتر ته راتلل. تازه د زابل د سرې میاشتې نماینده ګی له رئیس (عیسي خان) سره بلد شوی وم. عیسي خان یو خنده رویه ځوان و. یو غښتلی او خیالیګر زلمی و. خو چا وویشت او د مرګ خبر یې دومره وردولم لکه د کورنی کوم غړی چې مې له لاسه ورکړی وي. قلم او کاغذ مې را واخیستل او یوه مرثیه مې ولیکله:

هلـۍ عیسي خـــان یــې راتــه وویـشته
خـلـکـه، تـنـکـی ځوان یې راته وویشته

دې بدرنګه، څنګه پرې ماشه کش کړه؟
څـنـګـه شـین ریـحان یـې راتـه وویشته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

د چای وقفه کې مې دروند استاد نګارګر ته همدا مرثیه ولوسته، یو ژور اسویلی یې وکړ او بیا یې ویل:

مرثیه دې داسې لیکلې لکه یو څوک چې غم پسې واخلي او د یوه خواخوږي په لټه کې شي او چې څنګه یې پیدا کړي، نو ټول زړه ورسره تش کړي.

بیا یې دا مرثیه له ځو نورو همکارانو سره هم شریکه کړه.

استاد، د ځوانانو په هڅولو کې ډیر سخي و. استاد د معلوماتو په شریکولو کې ډیر سخي و او استاد د مینې او محبت په خورولو کې ډیر سخي و.

**دریغا!**

چې نن مو دا ستر لیکوال، ژباړن، شاعر او څیړونکی په پردیسی کې له لاسه ورکړ.

زموږ د وطن هم عجیبه برخلیک دی؛ موسمي توپانونه راشي او ښایسته، ښایسته ګلونه تریې په هوا کړي، ډیر لږ یې یوسي او د نورو د ګلدانونو زینت یې کړي. استاد هم لسیزې پخوا توپان په مخه کړی و او له خپل خواږه وطنه یې ډیر لرې وړی و چې بالاخره دا ګل هم پردیسی کې و رژیده.

**د استاد اروا دې ښاده وي.**

**۱۴۰۰/ ۹/ ۹**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ